د افغانستان دڅیړنې او ارزونې اداره

موضوعي څېړونو لنډيز

# خالیګاه وته پاملرنه؟ د افغانستان د پنج امو د سیند په ډنډوکې کې داوبو د تخصیص د محلي عادات او رواجونو د پاره بنیادي اصلاح



سلواغه ۱۳۹۱

توماس ونسان

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ ځرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱ لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د هالند ، فنلند، او سویډن دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. اروپایې کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC)، د ملګرو ملتونو پراختیایي اداره(UNDP)، د امریکا متحده ایالات د سولی انستیتوت(USIP)، د ملګرو ملتونو د ښځو چارو څانګی د جنسیت د یووالی او د ښځو د واکمنولو (UNWOMEN) او د نړیوال پراختیایی انستیتوت (ODI) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.

دغه څېړنه د اروپا د اتحادیې په مالی مرسته سرته رسیدلی

ژباړونکی: خوږه کاکړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دنشراتو مخصوص شمیره (۱۲۰۹P) دی.

© ۱۳۹۱ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښايي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یواځې د غیر–سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د برېښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکیني لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

## د لیکوالانو په اړه

ونسان ټوماس د افغانستان د څېړنو او ارزونې د ادارې د اوبو مدریت څیړونکي دی. مخکی، هغه د آغاخان بنسټ (فوندیشن) سره د څیړنې د مدیر په صفت او د پروژی د همغږی کوونکی د اداری ګډون د اوبو لګولو د سیتم (PMIS) په پروژه کی د تخار او بغلان ولایتونو د ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۰ کال پوری کار کړی. همدارنګه هغه په ۲۰۱۱ کال کی د افغانستان د بشری پراختیا رپوټ کی هم مرسته کړی وه. نوموړي د واخنینګن پوهنتون څخه د ابولګولو او د اوبو مدریت څخه فارغ شوی او دی علاقمند دی چې د اوبو مدیریت په سمیزیو ټولنو کې او د هغو اړیکی د پالیسی جوړونکو او هوسا ټولنو سره و نښلوی.

مجیب احمد عزیزی د افغانستان د څیړنو او ارزونې ادارې څیړونکی مرستیال دی. مخکې، هغه د آغاخان بنسټ (فوندیشن) سره د ټولنی جوړونکی د ګډوند مدریت د اوبولګولو د سیتسم (PMIS) پروژه کې له ۲۰۰۶ تر ۲۰۰۹ کال پوری په بغلان ولایت کې کار کړي. همدارنګه هغه د کاپیسا ولایت کې د پروګرام د رئیس مرستیال په صفت له مرسی کور سره کار کاوه . نوموړی د ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۱ کلنو تر منځ د انګلیس ژبی او ادبیات لیسانس د بغلان پوهنتون څخه تر لاسه کړی.

ومیق الله ممتاز د افغانستان د څیړنو او ارزونې ادارې څیړونکې دی. چې له دریو کلنو زیات یی په مختلفو څیړنو کې ګډون او مرسته کړی لکه سیمیز حکومت، ښاری حکومت، د معیشت تامینول او د اوبو مدریت. مخکې، هغه د Health Net-TPO سره د پرژی د آمر په صفت له ۲۰۰۵ تر ۲۰۰۸ کالنو پور کار کاوه. همدارنګه نوموړی د ننګرهار په ولایت کې د ماشومانو ژغوروني دفتر سره له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۴ کلنو پوری کار کړی. هغه په قانون او سیاسی علومو کې د پېښور دولتی پوهنتون څخه لیسانس او په نړیوالو اړیکو کې ډیپلومه تر لاسه کړی.

# اجراییوي لنډیز

پالیسي جوړونکي او نړیوالې مرستندویه موسسې له ۲۰۰۴ م کال راهیسې پدې هڅه دي، ترڅو د "ښې"حکو متوالۍ مفکورې د افغانستان د اوبو د سکټور د سمون په برخه کې ور و پیژني. د افغانستان د۲۰۰۹ م کال د اوبو قانون په درېو "سپېڅلو اصلونو " ولاړدی:لکه د اوبو د زېرمو ګډ عمومی مد یریت، د سیندونو حوزې مدیریت او د ګڼو شریکانو پلیټفورمونو (MSPs) له لاري په غیر مرکزي کچه پریکړو کې ګډون. له ۲۰۰۵ کال راهیسې د پنج- امو سیند د حوزې پروګرام د دغو مهمو پیژندل شویو مفکورو د پیژندنې چارې په شمال- ختیځ افغانستان کې د مخکښ په توګه پرمخ بیایي.

د دې حالاتو په نظر کې نیولو سره دا څېړنه هڅه کوي تر څو ښه پوهاوی رامنځ ته کړي. چې څه ډول سیمه ییزې ادارې په فرعی کچه د وچکالۍ په کلونو کې د اوبو وېش تر سره کوي او په پالیسۍ پورې اړونده ننګونو او فرصتونو باندې بحث کوي. د موجوده پالیسیو او حقایقو تر منځ د خلا د تحلیل نه مخکې دغه څېړنه د اوبو د وېش اړونده موجودو ادارو د تنظیم او موثریت ارزوی. د دې څېړنې عمومی تمرکز پر دې دی چې په فرعی کچه د پرېکړې کولو پروسې او د ځواک ترمنځ اړیکي او د اوبو وېش په څه ډول تنظیموي.

دغه څیړنه د تالقانو او د کوز کندز په فرعي حوزو کې دا څرګندوی چې څنګه او ولې سیمه ییزې ادارې د سیمې په کچه د اوبو د وېش ستونزو ته ځواب ورکوی. له دې سره دا څېړنه څرګندوي چې ډېرې وخت دا کار په څه ډول د هغو کړنلارو له مخې تر سره کیږي چې د اوبو د "ښه " مدیریت د بحثونو او له منل شوې کړنلارې سره چې د اوبو په قانون کې تسجیل شوې ده، سمون نه لري او د ګڼوشریکانو پلیټفورمونو (MSPs) له جوړښت څخه لرې والی لري. له یوې خوا اداري اصلاحات پردې ټینګار کوي چې د پرېکړې کولو ځواک د اوبو لګوونکو ته ولیږدول شی، او دولت د مشاور او تسهیل کونکی په توګه رول ولري. حقیقت دا دی چې د کوز کندز په فرعي حوزو کې دا په ډاګه کوي چې محلی دولت ــ د اوبو د تنظیم ریاست، د ولایت او ولسوالیو په کچه والیان ــ لا تر اوسه هم مشروع عاملان دي چې پرېکړې تنظیموي. پر دې سربېره هغوی دې ته لېوال دي، چې پرېکړې پر خلکو وتپي او د ګډون بهیر هغه مهال چې د دوی د ځواک دتوازن په ګټه وي پر شاوتمبوي. د اوبو قانون همدارنګه داسې وایی چې د اوبو موجود حقونه د جوازونو په شکل باید منځ ته راشي، خو دا یو پیچلی کار دی ځکه چې د اوبو د وېش دودیز سیستم یا آبانداز[2] چې اوسمهال د کوز کندز په فرعي حوزو کې تطبیق کیږي، او په رسمي ډول په لاندینیو کلیو کې د فرعی حوزی شاوخوا د اوبو حقونه نه پیژنی. په پای کې د حکومتوالۍ ماډل که څه هم د اوبو د قانون تر شا پریکړو پر غیر مرکزیت باندې ټینګار کوي، خو د تالقانو په فرعي حوزه کې واقعیت دا څرګندوي، چې د ملي شورا غړي، د کابینې وزیران او آن د جمهوري ریاست دفتر د ۲۰۱۱ کال د وچکالۍ په موسم کې د اوبو د وېش په برخه کې بنسټیز رول درلود. دغه تګلاره په لویه کچه د جمهوري ریاست په وروستني فرمان کې تسجیل شوې چې په اغیزمن ډول د قانون اساسی اصول نفی کوي.

دا څېړنه څرګندوي چې دولت یوځل بیا ښایي وغواړي هڅه وکړي تر څو د اوبو د تنظیم په برخه کې پر پرېکړو حاکمیت ولري، که څه هم د رسمي کړنلارې په رڼا کې دولت یواځې د تخنیکي مشاور دنده لري.

[1] جی وارنر, "د ځناورو ښکلا: د ګډو اوبو تنظیم لپاره د ګڼو شریکانو پلیټفورمونو، د ګډو کیچمنټ مدیریت کې د ګڼو شریکانو ګډون، یو کی،" (۲۰۰۷).
["The Beauty of the Beast: Multi-Stakeholder Participation for Integrated Catchment Management," in Multi-Stakeholder Platforms for Integrated Water Management] ، فارنهام UK، (اشګیت ۲۰۰۷).

[2] Abandaz (د لغت د اصل له مخې "داوبو خوشې کول" دی) د فرعي حوزې او یا کانال په کچه د اوبو د ویش دودیزه تجربه اورسم دی چې د ځانګړو شرایطو له مخې د اوبو د باندني جریان ګټه اخیستونکي د اوبو د استفادې د لاندني جریان کاروونکو ته اوبه خوشې کوي.د مهال او پیل د پریکړې صلاحیت په عمده توګه د اوبو د پاسني کاروونکو پورې تړاو لري ځکه چې آبانداز د اوبو دجریان کښتنیو کاررونکو حقونه نه تضمینوي.

پر دې سربیره د اوسنیو ګڼ شمېر شریکانو پلیټفورمونو (MSPs) د تشکیل او ترکیب پروسه بیا هم د پالیسیو له بهیرسره ډېر توپیرلري. اوسنی مقرره دا وړاندیز کوي چې د پرېکړو پلیټ فورم باید واحد واوسی. لکه د سیند د حوزې شورا چې د هایدرولوژیکي پولو په اوږدو کې را منځته کیږي چې ځانګړی ترکیب یې عمدتاً د اوبو د ګټې اخیستونکو کټګوریو باندې تمرکز کوي. خو موجوده کړنلاري د ګڼ شمیریزو پلیټفورمونو پلوي کوي. چې هر یو په ځانګړې پیمانه د اوبو د ویش په حلولو کې مرسته کوي او په جلا سکټور باندې تمرکز کوي لکه د اوبه لګوني په سکټور باندی. تشکیلاتي جوړښتونه د هایدرولوژیکي پولو په نسبت د ولایتی پولو په اساس بنیي. دغه ډول د ګڼ شمېر شریکانو پلیټفورمونو (MSPs) د خپل جوړښت له مخې انعطاف لرونکي، تطابق کوونکي دي او د تیوریکي ماډولونو پر ځای د عملي ستونزو له مخې را منځته شوي دي.

ساحوي پایلې دا هم څرګندوي چې د اوبو د قانون د ادارې د اصولو د تقابل سربیره په ۲۰۱۱م کال کې تر کار لاندې اداری تنظیمات د لاندی پرتو سیمو کارونکو ته اوبو ته د لاس رسی –که څه هم محدود– مګر نسبتاً مثبتو پایلو لامل شوي. د هغو فکتورونو تحلیل چې د دې لامل شوی دا هم په ډاګه کوي چې د وړاندې شوي پالیسۍ په سخت ډول عملی کول (یعنی د پریکړو د ځواک پر غیر مرکزیت او د اوبو کارونکو ته د دې لیږد) کیدای شي لږ تر لږه په لنډ مهال کې د لاندې پرتو سیمو لپاره د اوبو د لاس رسی په برخه کې ښې پایلی و نه لري. په نورو الفاظو هغه څه چې د "اوبو ښه حکومتداری" په پایله کې تر لاسه کړو هغه به اوبو ته د لاس رسی د پایلو په بیه تمام شي.

په پای کې څېړنه د پنج امو سیند د حوزې پروګرام چې د ۲۰۰۵ م کال راهیسی د مطالعی په ساحه کې د نمونی په توګه د اداری اصلاحاتو لپاره هڅي کوي، شک راپورته کوي. په دغو کلونو کې د پنج–امو سیند د حوزې پروګرام د فرعي حوزې د کاري ډلې په جوړولو او د ودی لپاره د تسهیل لار برابره شوی وه. دا توقع کیدله چې د ۲۰۰۹ کال د اوبو د قانون د اساسی اصولو په بنسټ به دا کار د سیندونو د حوزی مدیریت د بدلون په لور بوځي. خو بیا هم په ۲۰۱۱م کال کې د فرعي حوزې کاري ډلې لا هم د دې ظرفیت نه درلود چې ټولنیزه پوهه د اوبو د مدیریت ستونزو د عملي حل لاری لپاره د مرستي په توګه و کاروي. دغه ډله د یوي ټولنی په شکل پدې کې پاتې راغله، چې د تېر وخت له تجربو لکه د ۲۰۰۸م کال له وچکالۍ څخه پوهه واخلی . پرته له حیرانتیا د فرعي حوزو د کاري ډلو څخه هیڅ یوه هم د ۲۰۱۱م کال د وچکالۍ د مدیریت په برخه کې کوم رول و نه لوباوه. د دې پر ځای هغه څه چې څرګندیږي دا دي، چې د پنج امو سیند د حوزې پروګرام هڅي په لویه کچه د زیربناو په رغولو او همدارنګه د ستراتیژیو، قوانینو او پالیسیو د ودي په مرسته داوبو د سکټور د تنظیم او اصلاحاتو په برخه متمرکز دي. په عینی وخت کې دا په دې کې ٍپاتی راغله چې د اوبو د مدیریت عملی ستونزو د حل کولو لپاره د یوه مشروع او اړوند عامل په توګه څرګند شي. نتیجتاً سیمه ییزې اداری د خپلو رواج شویو لارو چې ډیری وخت د اصلاحاتو له چوکاټ څخه دباندی وده کوي، کار ته ادامه ورکوي او په مستقل ډول، پر مخ ځي.

د بېلا بیلو وړاندیزونو په لړ کې موږ دا تجویزوو چې، د پنج امو سیند د حوزې پروګرام له موجودو ادارو سره د نږدی همکاری له قبله، د نورو مقرراتو د رامنځ ته کولو پر ځای، د اوبو د وېش اړوند عملی ستونزو د حل لاری لپاره کار وکړي. د موجودو کاری ډلو او راتلونکی کې د فرعی سیندونو حوزو شوراوو د ټولنیزی پوهی د ظرفیت د لوړوالی لپاره باید زیاتره سرچینی ځانګړی شي. هغه پروګرامونه چې د اوبو د "ښې" ادارې لپاره ځانګړی شوی باید په کابل کې له چارواکیو سره او همدارنګه په اړونده ولایتونو کې د والیانو سره له نږدې څخه کار وکړی. دا هم مهم ښکاری چې د فرعی حوزو په کچه د پریکړو د پلیټفورمونو په ترکیب او تشکلیل باندي بیا له سره غور وشي او د یوه واحد او یوه ټاکل شوي فرعی سیندونو د حوزو د شوراوو پر ځای د زیاتو او بدلیدونکی ګڼ شمېر شریکانو پلیټفورمونو (MSPs) امکانات ولټول شي. په پای کې که څه هم د ښې حکومتداری تشکلیل رامنځ ته کول ضروری دي، دا هم کیدای شي معقول وي چې سرچیني زیاتی کړل شي تر څو د ځمکو اړوند د اوبو د خوندیتوب لاری په لویه کچه خپلی کړل شي او همدارنګه د اوبو د ابیاری غوښتنی کمې کړل شي او لاندنی ځمکو ته د اوبو لاس رسی په ښه توګه ملاتړ شي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

کورشمیره۱٤٤، حاجي یعقوب څلور لاري څخه دشهید څلورلاري په لور،

کین اړخ ته دریمه کوڅه. نوی ښار، کابل، افغانستان

ټلیفون: ٥٨٤ ٦٠٨ ٧٩٩ (٠) ٩٣+

برښنالیک: areu@areu.org.af

برښنا پاڼه: www.areu.org.af